# د ناروغیو په اړه اسلامي لارښوونې

دا چې د اسلام سپېڅلی دین د ژوند بشپړ او کامل نظام دی او د ژوند په هره برخه کې لارښوونې لري، نو انسان هغه وخت د دنیا او آخرت نېکمرغي ته رسیږي چې په اسلامي لارښوونو سم عمل وکړي او د ژوند په هره برخه کې اسلامي حکمونه پلي کړي.

دا چې اوس په نړۍ او زموږ هېواد کې د کرونا ویروس ناروغي په چټکۍ روانه ده، د نړۍ زیات انسانان یې له ګواښ سره مخامخ کړي او ټوله نړۍ یې په درملنه او علاج کې پاتې راغلې، نو ومې غوښتل چې په دې مقاله کې د ناروغیو په اړه د اسلام سپېڅلی دین لارښوونو، د افرادو او حکومت پر مسوولیتونو لنډ بحث وکړم، څو هېوادوال ور څخه ګټه واخلي.

## د ناروغیو په اړه اسلامي لارښوونې:

**۱- د ناروغیو په اړه د مؤمن بنده عقیده:** مؤمن بنده په دې عقیده ولري چې د ناروغۍ پیدا کوونکی الله تعالی دی، د الله تعالی له ارادې پرته هیڅ نه کېږي، د ناروغیو راتلل د الله تعالی واک دی، لکه الله تعالی فرمايي: (مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ)(۱) ژباړه: (د الله له ارادې څخه پرته هیڅ یو مصیبت نه راځي). تقدیر په دې معنا چې هره څه د الله تعالی په اراده ترسره کېږي، مؤمن دا باور ولري چې زه د الله تعالی له ارادې پرته هیڅ شی نه شم کولی، خپله اراده به د الله تعالی د ارادې تابع ګڼي.

**۲- په ناروغیو باندې صبر کول:** مؤمن بنده چې کله ناروغ شي، صبر دې کوي، ځکه چې په دې سره هغه ته ثواب ورکول کېږي. الله تعالی فرمايي: (وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ، الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ)(۲) ژباړه: او موږ هرومرو په وېره، لوږه، د نفسونو، مالونو او مېوو په تاوان اخته کولو کې پر تاسو ازمېښت کوو او (اې پیغمبره ص) صبر کوونکو ته زېرى ورکړه، هغه کسان چې کله ورته کوم مصیبت ورسیږي نو وايي: موږ د الله یو او د هغه (الله) لوري ته ور ګرځېدونکي یو، دا هم هغه کسان دي چې د دوی د رب له خوا پرې بخښنه او رحمت شوی او همدا کسان د سمې لارې موندونکي دي. په پورتني آیت کې دا لارښوونه شوې چې د مصیبت، تاوان او مرض په وړاندې مؤمن صبر وکړي، نو الله تعالی هغه ته بخښنه کوي او پر هغه رحمت کوي.

**۳- په مرض او مصیبت سره مؤمن بنده ته اجر ورکول کېږي:** ام المؤمنین عایشه صدیقه (رضي الله عنها) وايي چې رسول الله(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: «مَا مِنْ شَيْءٍ يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ حَتَّى الشَّوْكَةِ تُصِيبُهُ إِلاَّ كَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً أَوْ حُطَّتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ»(۳) مؤمن ته یو شی (له تاوان، مرض او ضرر څخه) نه رسیږي، تر دې پورې چې که ازغی هغه ته ور چوخ شي، نو الله تعالی د هغه لپاره په هغه سره نېکي او ثواب ورکوي یا له هغه څخه ګناه لرې او محوه

کوي. مؤمن بنده په هر حالت کې ګټه کوونکی دی، که په مصیبت او ضرر صبر وکړي او له الله تعالی څخه په هغه کې د ثواب امېد ولري، نو هغه ته اجر او ثواب ورکول کېږي او که د مرض او مصیبت له امله د اجر نیت کولو څخه غافل شي، د هغه ګناهونه محوه کېږي.

**۴- درملنه او علاج کول:** اسلامي شریعت د دې حکم کوي چې که څوک په ناروغۍ اخته شي، هغه دې درملنه او تداوي وکړي. اسامه بن شریك وایي چې پیغمبر(ﷺ) څخه یوه کوچې پوښتنه وکړه چې ایا موږ درملنه وکړو؟ پیغمبر (ﷺ) د هغه په ځواب کې وفرمایل: تَدَاوَوْا فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلاَّ وَضَعَ لَهُ دَوَاءً(۴). یعني: تاسو درملنه وکړئ، ځکه چې الله تعالی کوم درد او مرض نه دی پیدا کړی مګر دا چې د هغه لپاره یې درمل هم پیدا کړي دي. په بل حدیث کې راغلي: (مَا أَنْزَلَ اللَّهُ دَاءً، إِلاَّ أَنْزَلَ لَهُ دَوَاءً).(۵)، یعني: الله تعالی یو مرض نه دی نازل کړی، خو د هغه لپاره یې درمل او دوا هم پیدا کړي دي. نو د دغو حدیثونو په رڼا کې موږ ته حکم شوی چې د مرض درملنه وکړو او موږ په دې مکلف شوي یو.

**۵- مأثورات او دعا کول:** په مأثوراتو سره دم او دعا کول هم د الله تعالی په امر ناروغۍ له منځه ځي او ناروغ صحتمند کېږي، موږ باید له معنوي علاج څخه ګټه واخلو، لکه د فاتحې سورت لوستل او په هغې سره ځان او نور دمول، د موعذتین (الفلق او الناس) سورتونو لوستل او په هغو خپل ځان او نور دمول. له عثمان بن عفان(رضي الله عنه) څخه روایت دي چې پیغمبر(ﷺ) فرمایلي: «مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُولُ فِي صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ ، وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ : بِسْمِ اللهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ، ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، فَيَضُرَّهُ شَيْءٌ».(٦) یعني: نشته یو بنده چې د هرې ورځې سبا او هرې شپې په بېګا کې درې ځله دا دعا (بِسْمِ اللَّهِ الَّذِى لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَىْءٌ فِى الأَرْضِ وَلاَ فِى السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ) ووایي، نو بیا دې هغه ته څه شي ضرر ورسوي، په دې ورځ کې هغه ته ضرر نه رسیږي.

دغه راز دغه دعا: «اللَّهُمَّ إِنِّى أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُنُونِ وَالْجُذَامِ وَمِنْ سَيِّئِ الأَسْقَامِ)(۷). یعني: ای الله! زه په تا سره له پیس، لېونتوب، جذام او له ناکارو مرضونو څخه پناه غواړم) زده کړو او هغه ووایو. دغه راز عبد الله بن عمر (رضي الله عنهما) وایي چې پیغمبر(ﷺ) به هر بېګا او سبا دا دعا: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ ، اللَّهُمَّ أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي)(۸) لوستلې او د هغې لوستل یې نه دي پرېښې.

همدا راز له عذابونو او مصیبتونو څخه د ساتنې لپاره استغفار ووایو او توبې وباسو او خپل رب ته تواضع او عاجزي وکړو، د استغفار لوستل د مصیبتونو او عذابونو د مخنیوي لامل ګرځي. الله تعالی فرمایي: (وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ)(۹) الله تعالی هغو خلکو ته عذاب نه ورکوي چې هغوی بښنه غوښتونکي وي.

موږ ته لازمه ده چې خپله او خپله کورنۍ دې ته متوجه کړو چې د الله تعالی عبادت په ښه توګه ادا کړو، توبه، استغفار او دعاګانې وکړو.

**٦- صدقې او خیراتونه ورکول:** صدقې او خیراتونه د مصیبتونو او آفتونو د مخنیوي لامل ګرځي، د الله تعالی غضب او عذاب دفع کوي، لکه ابو امامة وایي چې رسول الله (ﷺ) فرمایلي دي: صَدَقَةُ السِّرِّ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ)(١٠). یعني: په پټه سره صدقه ورکول د الله تعالی غضب او عذاب دفع کوي. نو موږ ته لازمه ده چې د ناروغۍ او مصیبتونه د صدقو او خیراتونو په ورکولو سره دفع کړو څو له الهي عذابونو څخه وژغورل شو.

**٧- له ګناهونو او ظلم کولو څخه ځان لرې ساتل:** د آفتونو، مصیبتونو او ناروغیو د راتلو یو لامل دا هم دی چې انسانان یو پر بل ظلم وکړي، په ځمکه کې فحشا زیاته شي، خلک ګناهونو ته مخه کړي. بریدة له خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله (ﷺ) فرمایلي: «وَمَا ظَهَرَتْ فَاحِشَةٌ فِي قَوْمٍ قَطُّ إِلاَّ سَلَّطَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْهِمُ الْمَوْتَ »(١١). یعني: په یو قوم کې فحشا او بداخلاقي نه ښکاره کېږي، مګر دا چې الله تعالی په هغوی کې مړینه زیاتوي او پر هغوی مرګ مسلط وي. عبد الله بن عمر وایي چې نبي کریم(ﷺ) فرمایلي:لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ، حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا، إِلاَّ فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ)(١٢). یعني: په کوم قوم کې چې په ښکاره فحشا رامنځ ته شي، نو په هغوی کې به وباء خپرېږي. اوس نو نړۍ، خپل هېواد او خپل ښار ته سر ور ښکاره کړئ چې څه بداخلاقي، فحشا، ظلم او څه ډول ګناهونه نه کېږي، د مسلمان په لاسونو د بل مسلمان وینې تویېږي، مسلمان د بل مسلمان وژل روا ګڼي، ځکه خو د الله عذابونه را باندې نازلیږي.

**٨- د ناروغۍ د مخنیوي لپاره اسباب کارول:** د ناروغۍ د مخنیوي لپاره اسباب کارول، لکه پرهېز کول، دعاګانې کول، اذکار ویل، درملنه کول، ځان ساتنه او ډاکټر ته تلل، دا ټول د اسلامي شریعت غوښتنه ده او د تقدیر او توکل خلاف نه دي، بلکې د اسبابو کارول په تقدیر عمل کول دي. په حدیث کې راغلي: ابو خزامه له خپل پلار څخه روایت کوي چې هغه وویل: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيهَا، وَدَوَاءً نَتَدَاوَى بِهِ، وَتُقَاةً نَتَّقِيهَا هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللهِ شَيْئًا؟ قَالَ: «هِيَ مِنْ قَدَرِ اللهِ»(١٣). یعني: ما له رسول الله(ﷺ) څخه پوښتنه وکړه چې ما پر دې پوه کړه، کوم دمونه چې موږ یې کوو او هغه درمل چې موږ یې د درملنې لپاره کاروو او هغه څیزونه (لکه ډهال، زغره او داسې نور) چې موږ یې د حفاظت لپاره استعمالوو، ایا دا څیزونه د الله تقدیر ردولی شي، پیغمبر(ﷺ) وفرمایل: د دغو څیزونو کارول د الله تعالی تقدیر دی او د تقدیر مطابق دي.

له دې حدیث څخه دا ثابتیږي چې تقدیر په اسبابو سره لیکل شوی دی، لکه یو څوک ناروغ شي او هغه درمل وکاروي، الله به ورته صحت ورکړي، د مؤمن عقیده باید دا وي چې حقیقي مؤثر الله تعالی دی او په دم، دعا او درملو کې تأثیر اچوونکی الله دی، په خپل ذات کې دغه څیزونه څه نه شي کولای. څرنګه چې الله تعالی موږ ته په تقدیر باندې د ایمان راوړلو حکم کړی، دغه راز یې د اسبابو د استعمال حکم هم کړی دی، نو څرنګه چې په تقدیر باندې ایمان راوړلو کې د الله تعالی حکم منو، د اسبابو په استعمال کې هم د الله تعالی حکم ومنو، له اسبابو پرته توکل کول د اسلامي شریعت خلاف عمل دی او په اسلامي شریعت نه پوهېدل دي، څوک چې له اسبابو پرته پر توکل باور لري، نو هغوی باید د لوږې د دفعې لپاره خوراک ونه کړي، د تندې د دفعې لپاره اوبه ونه چښي او د اولاد لرلو لپاره باید نکاح ونه کړي.

دغه راز الله تعالی نېک او صالح عملونه جنت ته د داخلېدو سبب گرځولی، لکه الله تعالی فرمايي: ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ)(۱۴): (پرښتې به مؤمنانو ته وايي) دغه جنت ته د هغو عملونو په سبب ننوځئ چې کوم تاسو سرته رسولي دي. دغه راز ناوړه عملونه يې دوزخ ته د داخلېدو سبب گرځولی، الله تعالی فرمايي: (اصْلَوْهَا فَاصْبِرُوا أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ)(۱۵): په دې(اور) کې دننه شئ، وسوځئ، که تاسې صبر وکړئ او که يې ونه کړئ ستاسو لپاره يو برابر دي، تاسې ته همغسې جزا درکول کېږي لکه چې تاسې عمل کاوه.

په صحيح البخاري کې راغلي چې عمر فاروق (رضي الله عنه) د جهاد او مجاهدينو د ليدو لپاره شام ته تللی وو او هلته په جابيه نومي ځای کې وو، خبر شو چې په دغه سيمه کې وباء ناروغي خپره شوې ده، ملگري يې را وغوښتل چې مشوره ورسره وکړي، چا وويل چې ورځو، بېرته نه ځو، که په تقدير کې موږ ته مرگ ليکل شوی وي، له هغه خو نه شو خلاصېدای، ځينو وويل چې نه ورځو، په دې کې عبيدة بن الجراح وويل: (أَفِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللَّهِ) آيا تاسو د الله له تقدير څخه تښتئ، عمر فاروق( رضي الله عنه) ورته وفرمايل: لَوْ غَيْرُكَ قَالَهَا يَا أَبَا عُبَيْدَةَ) که دا خبره له تا څخه پرته بل چا کړې وه، ډېره به ښه وه، له تاسره دا مناسبه نه وه، نو عمر فاروق(رضي الله عنه) د هغه په ځواب کې وفرمايل: نَعَمْ نَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ إِلَى قَدَرِ اللَّهِ) هو! موږ د الله له تقدير څخه د الله تقدير ته تښتو، دغه ځواب د شريعت مطابق ځواب دی، ځکه دا بېرته گرځېدل هم تقدير دی، که موږ لاړ شو، نو له ناروغي څخه به مو ځان ساتلی وي او بېرته گرځېدل د ځان ساتلو سبب دی، په دې مينځ کې عبدالرحمن بن عوف(رضي الله عنه) راغی، هغه وويل: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلی الله عليه وسلم- يَقُولُ: «إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلاَ تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ).(١٦) ما له رسول الله (ﷺ) څخه اورېدلي دي چې فرمايلي دي: چې کله خبر شئ چې په يوه سيمه کې وباء ناروغۍ خپره شوې ده، نو هغې سيمې ته مه ورځئ او کله چې په کې وئ، نو له هغې بېرته مه تښتئ.

اوس عمر فاروق (رضي الله عنه) په دين ښه پوهېده او که موږ، هغه د غښتلي او قوي ايمان خاوند و او که موږ، عمر فاروق(رضي الله عنه) چې به په کومه لاره تېرېده، شيطان به په هغې لاره نه ورتلو، زه هغه چا ته حيران يم چې د شريعت په روح نه پوهېږي، د شريعت په رڼا کې د بنده گانو مصالح او مفاسد نه پېژني، د مصالحو او مفاسدو ترمنځ موازنه نه شي کولی، په فقه اولويات او فقه مقاصد نه پوهيږي، د خپل هېواد او هېوادوالو ظروف او حالات نه پيېژني، وچ او جامد فکر باندې فتوا ورکوي.

**۹- ناروغۍ هم ساري دي او هم ساري نه دي:** په دې اړه دواړه ډوله نصوص راغلي: د ساري ناروغيو په اړه دا حديثونه دليل دي. ابوهريره (رضي الله عنه) څخه روايت چې رسول اللهِ (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: فِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ.(١٧) له جزام ناروغ څخه داسې تښته لکه ته چې له زمري تښتې، دا ځکه چې هغه بل ته انتقالېدای شي، نو له هغه څخه بايد انسان ځان لرې وساتل شي. بل حديث کې راغلي، اسامه بن زيد څخه روايت دی چې پيغمبر (ﷺ) فرمايلي: فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ فَلاَ تَدْخُلُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَفِرُّوا مِنْهُ(١٨) چې کله تاسې خبر شئ چې په يوه سيمه کې وباء خپره شوې، نو هلته مه ورځئ او که په دغه سيمه کې موجود وئ، نو له هغې څخه مه وځئ، په دې حديث کې هم د ناروغۍ انتقال ته اشاره شوې ده، په کومه سيمه کې چې وباء وي، هلته ورتلل

منع شوي او که څوک هلته موجود وي، بل چېرته به نه ځي، ترڅو نورو ته دا ناروغۍ انتقال نه شي. پورتني دواړه حدیثونه په دې دلالت کوي چې ځینې ناروغۍ ساري او انتقالیږي.

د ناروغۍ په نه ساري او نه انتقال دا حدیث وړاندې کوو: ابو هریرة (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي : لاَ عَدْوَی، وَلاَ طِیَرَةَ، وَلاَ هَامَةَ، وَلاَ صَفَرَ(۱۹). یعني: د ناروغۍ انتقال یو بل ته نشته، په مرغانو او میاشتو پورې بد فال نیول نشته. دا حدیث په دې دلالت کوي چې ناروغۍ نه انتقالیږي او پورته ذکر شوي حدیثونه د جذام او طاعون مرض په انتقال باندې دلالت کوي، د دې حدیثونو جمع کول په څو طریقو کېدای شي: یو دا چې کوم حدیث د ناروغۍ په ساري او انتقال دلالت کوي، هغه په ځینو ناروغیو حمل کړو چې ځینې ناروغۍ ساري دي او کوم حدیث چې د ناروغۍ په نه انتقال باندې دلالت کوي، هغه په دې حمل شي چې ځینې ناروغۍ نه انتقالیږي، دوهم دا چې د (لا عدوی...) حدیث مفهوم دا دی چې ناروغۍ په خپله طبع نه شي انتقالېدای، کوم چې به عربانو په جاهلیت کې دا عقیده درلوده چې ناروغۍ په خپله طبع انتقالیږي، نو په دې سره د هغوی د جاهلي زمانې باور رد شو چې ناروغۍ په خپله طبع نه شي انتقالېدای، بلکې دا د الله تعالی واک دی، نه د مرض.

اوس خو د طب علم دا ثابته کړې ده چې ځینې ناروغۍ ساري او یو بل ته انتقالیږي، دا د طب پوهان ویلی شي چې کومې ناروغۍ ساري او کومې ناروغۍ ساري نه دي، ځکه دوی په دې اړه تخصص لري او دوی په دې اړه د نظر خاوندان دي او موږ باید د هغوی خبره ومنو او د هغوی په لارښوونو عمل وکړو، د اسلامي لارښوونو په رڼا کې هیڅ کله علمي حقیقت له شرعي قطعي نص سره په ټکر کې نه واقع کېږي.

**۱۰- ناروغۍ د اسلامي احکامو د تخفیف او رخصت لامل ګرځي:** لکه د اودس او غسل پر عوض تیمم وهل، لمونځ په ناسته او اشاره کول، روژه نه نیول او بیا یې قضایي راوړل، د حج  لپاره نایب نیول، د جُمعې او جماعت لمونځونو ته نه تلل چې دغه ټول په شرعي نصوصو ثابت دي، لکه د جماعت لمانځه په اړه دا حدیث شو: عبدالله بن عباس وایي چې پیغمبر (ﷺ) وفرمایل: مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ اتِّبَاعِهِ، عُذْرٌ، قَالُوا : وَمَا الْعُذْرُ ؟ قَالَ : خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ»(۲۰). یعني: څوک چې آذان اوري او لمانځه ته لاړ نه شي، د هغه لمونځ درست نه دی، مګر که عذر ولري (لمونځ یې صحیح دی)؛ پوښتنه وشوه چې اې د الله پیغمبره! عذر څه شی دی؟ ویې فرمایل: مرض او وېره. نو په نفس، مال او کورنۍ باندې وېرېدل د جماعت د پرېښودلو عذر ګڼل کېږي.

**د وبایي ناروغیو په اړه د اسلام ځانګړې لارښوونې:**

مخکې له دې چې د وبایي ناروغیو په اړه اسلامي لارښوونې وړاندې شي، غوره به دا وي چې وبایي ناروغۍ تعریف شي چې دا کوم ډول ناروغۍ دي.

وباء یا طاعون هغه عامه ناروغي ده چې زیاته مړینه له ځان سره لري. یا وباء هغه ویروسي ناروغي ده چې موږکانو کې پیدا کېږي او د خزنده ګانو په وسیله انسانانو ته انتقالیږي.(۲۱) له دغو تعریفونو څخه څرګندیږي چې هر هغه مرض چې په نړۍ کې خپور شي او زیاته مړینه را منځ ته کړي، هغه ته وباء یا طاعون ویل کېږي، نو په دې بنسټ ویلی شو چې اوسنۍ ۱۹- COVID یا کرونا وبایي ناروغي ده او اسلامي شریعت د وبایي ناروغیو په اړه ځانګړې لارښوونې لري چې په لاندې توګه ورته اشاره کېږي.

**۱- څوک چې په وبایي ناروغۍ مړ شي، هغه شهید دی:** زموږ خوږ پیغمبر(ﷺ) داسې فرمایلي: وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُونِ فَهُوَ شَهِيدٌ »(۲۲). یعني: څوک چې په وباء مړ شي، هغه شهید دی، خو دا هغه شهید دی چې هغه ته به په

آخرت کې د شهید ثواب ورکول کېږي. په دغه حدیث کې د مؤمنانو لپاره غټه ډاډګیرنه پرته ده، نو که مؤمن په دې مرض سره وفات شي، الله تعالی هغه ته د شهید اجر ورکوي، ځکه خو مؤمن په مرض کې له رواني او روحي ستونزو سره نه مخامخ کېږي.

**۲- په وباء اخته کسان باید قرنطین شي:** دا چې کرونا وباء ساري او یو بل ته انتقالیږي، نو باید چې په کرونا اخته کسان په کور کې پاتې شي، تر څو بل چا ته دا ناروغي انتقال نه شي، په دې اړه شرعي دلیل د اسامه بن زید روایت دی چې پیغمبر (ﷺ) فرمایلي: فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ فَلاَ تَدْخُلُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَفِرُّوا مِنْهُ(۲۳). یعني: چې کله تاسي خبر شئ چې په یوه سیمه کې وباء خپره شوې، نو هلته مه ورځئ او که په دغه سیمه کې موجود وئ، نو له هغې څخه مه وځئ. دغه حدیث موږ ته دوه حکمونه بیانوي، یو دا چې په کومه سیمه او منطقه کې چې وباء خپره وي، هلته مه ځئ، ځکه چې په ناروغۍ اخته نه شو او خپل ځان وساتو، بل دا چې له هغې سیمې او منطقې څخه و نه وځو، ځکه چې نورو ته به ناروغۍ انتقال کړو او نور به په مرض اخته شي.

د حدیث په رڼا کې لومړی افراد دنده لري چې په کور پاتې شي، ګڼې ګوڼې پرېږدي، په ځانګړې توګه په کرونا اخته کسان خپل ځانونه قرنطین کړي، په دوهم قدم کې حکومت دنده لري چې خلکو ته حکم وکړي چې له کورونو څخه را ونه وځي، د حکومت امر منل پر رعیت واجب دي، په دې اړه د ډاکټرانو خبره پر موږ لازمه ده چې هغه ومنو، ځکه چې حکومت زموږ د مصلحت لپاره حکم کوي او ډاکټران خو متخصصین او اهل ذکر دي، اسلام موږ ته حکم کړی چې په کوم شي نه پوهېږئ، د هغه په اړه له مسلکي شخص څخه پوښتنه وکړئ، الله تعالی فرمایي: فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ)(۲۴). یعني: که په څه نه پوهېږئ، نو له اهل علم څخه پوښتنه وکړئ.

هو! د یادونې وړ ده چې زموږ هېوادوال فقیران دي، که هغوی د ورځې کار ونه کړي، د شپې ډوډۍ نه لري. په دې اړه لومړی حکومت دا دنده او مسوولیت لري چې هغوی ته نفقه او خوراکي توکي برابر کړي، په دې اړه دې د جوماتونو له امامانو څخه د فقیرانو په تشخیص او معلومولو کې مرسته وغواړي تر څو د مستحقو کسانو لاسنیوی وشي او مرستې هغوی ته ورسیږي، په دوهم قدم کې زموږ بډایه هېوادوال باید له فقیرانو سره پوره مرسته وکړي، څو هغوی په کورونو کې پاتې شي چې هم دوی او هم نور خلک له کرونا څخه په امن کې پاتې شي، که مو له فقیرانو سره مرسته ونه کړه، نو له انساني ناورین سره به مخامخ شو چې مسوولیت یې حکومت او ټولنې ته ورګرځي.

**۳- په کومه سیمه کې چې وباء خپره وي، هلته ورتلل منع دي:** حکومت حق او مسوولیت لري چې خلک له تګ راتګ څخه منع کړي، ترڅو د کرونا د شیوع او خپرېدو مخه ونیول شي. د طب متخصصین ټول په یوه خوله وایي چې د کرونا د پراختیا د مخنیوي لاره دا ده چې ګڼې ګوڼې او نږدې تماسونه پرېښودل شي، موږ باید د ډاکټرانو سپارښتنې ومنو او هغه عملي کړو. عبدالرحمن بن غنم وایي چې په شام کې وباء ولګېده، نو عمرو بن العاص (رضي الله عنه) خلکو ته حکم وکړ چې غرونو ته لاړ شئ، او هلته خپاره شئ.(۲۵) ځکه چې د غرونو هوا، اوبه او خاوره پاکه وي او وبایي ناروغۍ د هوا، اوبو او ځمکې له چټلتیا او فساد څخه رامنځ ته کېږي.

**۴- په کرونا اخته شخص نورو ته ضرر ونه رسوي:** دا په دې معنا چې زموږ ځینې هېوادوال په دې ناروغۍ اخته کېدل پټوي او له خلکو څخه ځان لرې نه ساتي او خلکو ته هم نه وایي چې په کرونا ناروغۍ اخته یم، ما ته مه نږدې کېږئ، سره له دې چې په دې ښه پوهېږو چې دا ناروغي ساري ده، نو دغه کسان ظالم ګڼل کېږي، ځکه چې کامل مسلمان هغه څوک دی چې نور د هغه له ضرر څخه په امن کې وي. زموږ پیغمبر(ﷺ) فرمایي چې ضرر رسول منع

دي. کرونا ناروغ باید چې جومات او ګڼې ګوڼې ته لاړ نه شي، څو خلکو ته ضرر ونه رسوي. دین موږ ته حکم کوي چې که څوک خام پیاز یا هوږه وخوري، نو هغه دې جومات ته نه ځي، ځکه چې نورو ته د اذیت او ضرر ذریعه ګرځي. جابر بن عبدالله (رضي الله عنه) وایي چې رسول الله (ﷺ) فرمایلي(مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلاً فَلْيَعْتَزِلْنَا أَوْ لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ)(٢٦). یعني: څوک چې هوږه یا پیاز وخوري، نو هغه دې له موږ څخه لرې شي یا دې زموږ مسجد ته نه راځي او په خپل کور کې دې کښېني. دا چې موږ د هوږې او پیاز خوړلو په وجه له نورو سره د یوځای کېدو او مسجد ته له تلو څخه منع یو، نو د کرونا خطر به زیات وي او که د پیاز او هوږې.

**٥- وباء عامه وي:** ځینې کسان دا ګومان کوي چې مسلمانان په کرونا ناروغۍ نه اخته کېږي، حال دا چې الله تعالی فرمایي: وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً(٢٧): او هغې فتنې څخه ځان وژغورئ چې د هغې ناوړه اغېزې به یواځې پر هغو خلکو پورې محدودې پاتې نه شي چې په تاسې کې چا ګناه کړې وي، معنا دا چې عذاب عام دی، یواځې ګناه ګارانو باندې نه راځي، بلکې صالح او نېکان هم په کې راګېرېږي. دغه راز په حدیث کې راغلي: زینب بنت جحش وایي چې ما له رسول الله(ﷺ) څخه پوښتنه وکړه: أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ: «نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ(٢٨). یعني: ایا موږ به هلاک کېږو، حال دا چې په موږ کې صالحان وي، پیغمبر(ﷺ) وفرمایل: هو! چې کله ګناهونه او فساد زیات شي. که موږ تاریخ ته وګورو، یواځې د عمواس په وباء کې له شل زرو زیات مسلمانان وفات شول چې په هغو کې کبار صحابه هم ول، لکه عبیدة بن جراح، معاذ بن جبل او شرحبیل بن حسنة(رضي الله عنهم)(٢٩).

**٦- ځان ساتنه:** د اسلامي شریعت له ضروري مقاصدو څخه یو هم د نفس ساتنه ده، دین موږ ته حکم کوي چې ځان له هلاکت څخه وژغورئ، لکه الله تعالی فرمایي: وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ(**٣٠**) او په خپلو لاسونو خپل ځانونه په هلاکت کې مه غورځوئ. کله چې نفس له مشقت او ستونزو سره مخامخ کېږي، اسلامي شریعت په احکامو کې د تخفیف او رخصت حکم کړی، تر دې چې د نفس د خوندیتوب لپاره د اکراه او مخمصې په مهال مرداره او شراب خوړل روا کېږي، په ځینو حالاتو کې د نفس ساتنه د دین تر ساتنې مخکې ده، لکه د اکراه په صورت کې د ځان د ساتنې لپاره په دې شرط د کفر کلمه ویل چې زړه یې په ایمان مطمئین وي.

همدا راز د ضروري مقاصدو هر یو مکملات لري چې په هغو سره هغه تکمیلیږي، لکه د نفس د ساتنې لپاره قصاص مشروع شوی چې د هغه په تطبیق سره د نفس ساتنه کېږي، خو په قصاص کې مماثلت رعایتول د نفس د ساتنې مکمل ګرځي، یا د نسل د ساتنې لپاره نکاح مشروع شوې ده، خو په نکاح کې د عاقدینو کفائت او د مخطوبې لیدل د نکاح له مکملاتو څخه دي، همداراز د دین ساتنه له ضروري مقاصدو څخه ده او د دین د اقامې لپاره د لمانځه حکم راغلی، نو د دین له مکملاتو څخه اذان او د جماعت لمونځ مشروع شوي دي. په نتیجه کې ویلی شو چې د نفس ساتنه د دین پر مکملاتو لومړیتوب لري. نو جماعت ته نه تلل یا د جماعت لمونځ په مسجد کې بندولو سره دین نه ړنګېږي، تر دې چې د خټو، شدید باران او وېرې له امله جومات ته د جماعت لپاره نه تلل رخصت دي. عبدالله بن عمر وایي: كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يُنَادِي مُنَادِيهِ فِي اللَّيْلَةِ الْمَطِيرَةِ، أَوِ اللَّيْلَةِ الْبَارِدَةِ ذَاتِ الرِّيحِ، صَلُّوا فِي رِحَالِكُمْ.(٣١) پیغمبر (ﷺ) به د باراني شپې، یا به چې شپه سړه باد لرونکې وه، خپل اذان کوونکي ته غږ کاوه چې خلکو ته آواز وکړه چې په خپلو کورونو کې لمونځ ادا کړئ، نو مفتیان باید د شرعي مقاصدو، د مستفتي حالت ته په کتو د زماني او مکاني ظروفو په رڼا کې فتوا ورکړي.

**۷- د کرونا ناروغۍ په اړه د حکومت مسوولیت:** حکومت د همدې لپاره جوړېږي چې کفايي واجبات سرته ورسوي، حکومت د رعیت او ولس استازی دی، د ولس په استازیتوب کفايي واجبات ادا کوي، لکه لویې لارې جوړول، روغتونونه جوړول، تعلیمي ادارې جوړول او داسې نور، نو له همدې امله پر حکومت واجب دي چې په ټول قوت او د شته امکاناتو په برابرولو سره د کرونا ناروغۍ د خپرېدو مخنیوی وکړي او د هېوادوالو لپاره د درملنې ټول اسباب ترسره کړي، روغتونونه تیار کړي، درمل تیار کړي، طبي پرسونل ولري او نور اړین طبي تجهیزات هر ولایت ته ولېږدوي. نبي کریم(ﷺ) د امیرانو د مسوولیت په اړه فرمايلي: أَلاَ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالأَمِيرُ الَّذِى عَلَى النَّاسِ رَاعٍ عَلَيْهِمْ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ)(۳۲). یعني: خبر اوسئ چې د ستاسو هر یو شپونکی دی او ستاسو هر یو د خپل ولس او رعیت په اړه پوښتل کېږئ، نو پر خلکو مقرر امیر د هغوی ساتونکی دی او له هغه څخه د هغوی په اړه پوښتل کېږي.

نو د کرونا له ناروغۍ سره د مبارزې لپاره ولس او حکومت باید یو بل ته لاس ورکړي، ولس باید د حکومت اوامر ومني او په دې اړه له حکومت سره پوره مرسته وکړي، څو په ګډه د دې ناروغۍ د خپرېدو مخه ونیول شي او زموږ ګران هېواد وطن ورڅخه محفوظ پاتې شي.

**مأخذونه:**


۱- د التغابن سورت: ۱۱ایت.
۲ - د البقرې سورت: ۱۵۷-۱۵۵ آیتونه.
۳ - صحیح مسلم، ۶۷۳۲ شمېره حدیث.
۴- سنن ابي داود، د حدیث شمېره ۳۸۵۷.
۵- سنن ابن ماجه، د حدیث شمېره ۳۴۳۸.
۶ - سنن ابي ابن ماجه، د حدیث شمېره ۳۸۶۹.
۷ - سنن ابي داود، د حدیث شمېره ۱۵۵۶.
۸ - سنن ابن ماجه، د حدیث شمېره ۳۸۷۱.
۹ - د الانفال سورت: ۳۳ ایت.
۱۰- المعجم الکبیر للطبراني، د حدیث شمېره ۷۹۳۹.
۱۱ - السنن الکبری للبیهقي، د حدیث شمېره ۶۶۲۵.
۱۲- سنن ابن ماجه، د حدیث شمېره ۴۰۱۹.
۱۳ - سنن الترمذي، د حدیث شمېره ۲۰۶۵.
۱۴- د النحل سورت: ۳۲ ایت.
۱۵ - د الطور سورت: ۱۶ ایت.
۱۶- صحیح البخاري: د حدیث شمېره ۵۷۲۹.
۱۷- صحیح البخاري، د حدیث شمېره ۵۷۰۷.
۱۸ - صحیح مسلم، ۵۹۰۴ حدیث.
۱۹- صحیح البخاري، د حدیث شمېره ۵۷۵۷.
۲۰- سنن ابي داود، د حدیث شمېره ۵۵۱.
۲۱- المعجم الوسیط، دوهم جزء، ۵۵۸مخ.
۲۲ - صحیح مسلم، د حدیث شمېره ۵۰۵۰.
۲۳- صحیح مسلم، ۵۹۰۴ حدیث.
۲۴- د الانبیاء سورت، ۷ آیت.
۲۵- اسد الغابة، دوهم جزء، ۲مخ.
۲۶- سنن ابي داود، د حدیث شمېره ۳۸۲۴.
۲۷ - ی الانفال سورت، ۲۵ آیت.
۲۸- صحیح مسلم، د حدیث شمېره ۷۴۱۶.
۲۹ - البدء والتاریخ: لومړی جزء، ۳۱۳مخ.
۳۰ - البقرة: ۱۹۵ آیت.
۳۱ - سنن ابن ماجه، د حدیث شمېره ۹۳۷.
۳۲- سنن ابي داود، د حدیث شمېره ۲۹۳۰.